


Download from:aghalibrary

# حسن بصری

# د زهد او تقوا نمونه

## نوم او نسب:

نوم يې حسن د ابو الحسن زوې او د يسار لمسۍ او د زيد بن ثابت الانصارى مريې وو، ځينې وايي چې د سلمي د قبيلې د کعب چې په ابو اليسر مشهور وو مريې کيده.

پلار يې د جميل د زوې چې قطبة نوميده، مريې وو چې د ميسان څخه مريې نيول شوي وو، په مدينه منورة کې يې ژوند کړې وو او د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په موده کې يې واده وکړ او د هغه د خلافت په وروستيو دوو کلو کې يې حسن رضی الله عنه دنيا ته راوړ. مور يې خيرة نوميده چې د ام المؤمنين حضرت ام سملة رضی الله عنها وينځه وه، دهغې خدمت به يې کاوه چې ځينې وخت به يې د کوم کار لپاره استوله نو له خپل ماشوم څخه به لرې موده ليرې شوه نو ام المؤمنين حضرت ام سملة رضی الله عنها به ورته خپل تې ورکاوه چې پده سره يې مصروف کاندي مګر د هغه له تي څخه به شودې راتلې چې ده به په پريمانه توګه څښلې، له همدې امله ډيرو خلکو دا انګيرله چې کوم علم او حکمت چې الله تعالې ده ته وربخښلې وو هغه ټول د همدغو شودو په برکت وو چې د حضرت رسول

اکرم صلی الله علیه وسلم ته منسوب وو، او همدارنګه مور به يې ځينې وخت مشرانو صحابه کرامو ته را ايسته چې هغوی دعا ورته ورکړي او ددعا کوونکو له ډلې څخه يو کس هم حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وو چې ورته به يې داسې دعا کوله: ای الله ته يې په دين پوه کړې او خلکو ته يې محبوب وګرځوې.

حضرت ابن سعد په خپل کتاب الطبقات کې له دويمې طبقې څخه شميرلې پداسې حال کې چې د طبقې له نورو غړو څخه کشر وو.

## ژوند او سفرونه يې:

اصلي ټاټوبی يې ميسان دې مګر په مدينه منوره کې د صحابه وو تر ځارنې لاندې لوی شوی. کابل ته يې هم سفر کړې او د حضرت معاوية بن ابی سفيان په خلافت کې د ربيع بن زياد ليکوال (کاتب) پاتې شوی وروسته بيا په بصره کې اوسيدلې چې د حسن بصري په نامه و پيژندل شو.

## زده کړې:

حسن بصري په مدينه منوره کې وزيږيد او د صحابه کرامو ترمنځ لوی شو چې همدغه فرصت پوهې او زده کړې ته وهڅاوه چې علم زده کړي او له هغوی روايت وکړي. حسن بصري ډېر صحابه ليدلي دي او د لويو صحابه وو ترمنځ يې ژوند هم کړی لکه حضرت عثمان بن عفان، طلحة بن عبيد الله، او له عمران بن حصين او مغيرة بن شعبة، عبد الرحمن بن سمرة، سمرة بن جندب، ابو بکرة الثقفي، نعمان بن بشير، جابر او جندب بجلي، ابن عباس، عمرو بن تغلب، معقل بن يسار، اسود بن سريع، انس بن مالک رضی الله عنهم څخه يې روايتونه هم کړې دي.

## د تابعينو اغيز:

لکه څرنګه چې دده په روزنه کې د صحابه وو اغيز وو چې د هغوې په منځ کې لوی شوی وو او د هغوې په لاس روزل شوې وو نو همدارنګه دده په روحيه باندې د ځينو تابعينو اغيز هم وو. روايت کيږي چې يوه ورځ حسن بصري رضي

الله عنه حاجیانو ته قصه اوروله چې حضرت علی بن الحسین رضی الله عنه ورباندې پیښ شو نو سمدلاسه یې ترې پوښتنه وکړه چې ای مشره! آیا د ځان لپاره مرګ خوښوې؟ ځواب یې ورکړ چې نه. بیا یې ترې وپوښتل: آیا له دغې کعبې څخه پرته په ځمکه کې د الله بله کومه کعبه شته، ورته ویې ویل چې نه. بیا یې ترې و پوښتل چې: آیا له دغې دنیا څخه پرته بله کومه دنیا د نیک عمل لپاره شته؟ ځواب یې ورکړ چې نه. نو بیا یې ترې و پوښتل: چې آیا ستا کار د حساب د ورځې لپاره دې؟ وویې ویل چې نه. نو بیا یې ورته وفرمایل چې: بیا نو ولې دې خلک د الله له کور څخه په قصو مصروف کړي دي، نو له هماغې ورځې وروسته یې بیا هیڅ کله قصه و نه کړه.

## په خلکو اغیز:

هغه څوک چې د صحابه وو په لاس روزل شوې وي او له هغوې څخه یې زده کړه کړې وي نو خامخا به پر هغه ښکاره نښې وي. له ایاس بن تمیمة څخه روایت دي چې وایي: ما حسن بصري د ابو رجاء پر جنازې په قچرې سپور

ورته وویل: له خلکو اورو چې راته تر ټولو ښه او ځینې هم راته تر ټولو بد وایې نو هغه راته وویل: ای ابو فراسه، کیداې شي چې ځوک ګرد وهلی او د ورستو کالو لرونکی وي مګر له ما څخه به غوره وي؟ او کوم زوړ مشرک به وي چې ته به ورڅخه غوره وې؟ نو وایه چې مرګ ته دې څه تیار کړي دي؟ فرزدق ځواب ورکړ: ګواهي ورکوم چې له الله څخه پرته د عبادت لایق بل ځوک نشته. نو هغه ورته وویل: چې دده ترڅنګ خو نور شرطونه هم شته مګر پام کوه چې په پاک لمنو میرمنو تهمت و نکړې. هغه ورته ځواب ورکړ: چې که دا کار وشي نو آیا توبه لري. ویې ویل: هو.

حسن بصري د ابن هبیرة له مجلسه ووت نو ګوري چې ځینې حافظان په دروازه کې ولاړ دي. حسن بصري ترې و پوښتل چې دلته څه کوی، آیا غواړی چې له دغو ناولو سره کښینې، قسم په خداې چې له دوی سره ناسته خو د صالحو خلکو سره ناسته نده، ځی خواره واره شی الله دې ستاسې ارواوې له تن څخه جلا کړي. الله تعالې دې تاسی وشرموي چې تاسې د قرآن حافظان و شرمول. قسم په

خداې که چیرې تاسې ددوی له دنیا څخه بې پروا شوي وای نو هغوی به ستاسې قرآن ته رغبت پیدا کړی وای مګر تاسې د هغوی دنیا ته رغبت پیدا کړئ دې نو هغوی ستاسې له قرآن څخه بې پروا شوی دی.

## له ابن سیرین سره:

د ابن سیرین او حسن بصري ترمنځ څه اختلاف وو، کله به چې د حسن بصري په وړاندې ابن سیرین یاد شو نو هغه به ویل چې: پریږدئ جولاګان له مونږ سره مه یادوئ. دابن سیرین د کورنۍ ځینې غړي جولاګان وو نو هماغه وو چې حسن بصري یوه ورځ ځان بربنډ په خوب ولیده چې په یوه ډیران ولاړ دې او په لړګي یې وهي. دغه خوب ډیر پریشانه کړ نو بیایې ځینو اندېوالانو ته وویل چې ولاړشئ له ابن سیرین څخه ددغه خوب تعبیر وپوښتئ او هغه ته داسې ښکاره کړۍ چې ګواکې دغه خوب تاسې لیدلې. یو کس ابن سیرین ته ولاړ او هغه ته یې وویل چې ما داسې خوب لیدلې نو هغه ورته ځواب ورکړ چې ولاړشه د خوب لیدونکي ته ووایه چې له جولاګانو څخه داسې پوښتنې مه

کوه. نو هغه حسن بصري ته هغه ځواب راووړ چې په حسن بصري درنه تمامه شوه، بیا هغه ته پخپله ورغی، چې کله ابن سیرین ولیده نو ورته پاځیده او دواړو یو بل ته سلام وواېه او د یوبل ملامتول یې پیل کړل. حسن بصري ورته وویل: پرېږده دا خبرې چې زما ذهن دغه خوب مصروف کړی. ابن سیرین ورته وویل چې: ذهن دې مه مصروفوه، په خوب کې د بربندوالي معنا له دنیا څخه بربندوالی دې چې په تا پورې د دنیا هیڅ شی هم نښتي ندي او هغه ډېران دنیا وه چې ته ترې ښه خبر یې چې ددنیا اصلي څیره څنګه ده، او په لرګي د وهلو تعبیر دادې چې خلکو ته علم بیانوې چې ټول خلک ترې ګټه اخلي. حسن بصري ورته وویل: څنګه پوه شوې چې دغه خوب ما لیدلی؟ نو ابن سیرین وویل: کله چې ستا ملګري ماته د خوب قصه کوله نو ما فکر وکړ چې دغه خوب بې له تاڅخه بل څوک نشي لیدلی.

## له عمر بن عبد العزیز سره:

حسن بصري رحمه الله تعالې عمر بن عبد العزیز ته یو لیک

وليږه: وروسته له حمد او ثناء څخه اې د مسلمانانو اميره! پوه شه چې دا دنيا د اوسيدو ځايې ندې بلکه حضرت آدم عليه السلام د سزا په توګه دنيا ته راکوز کړاې شو، که څوک په ثواب نه پوهيږي بايد پوه شي چې دا دنيا د ثواب ګټلو ځاې دې او هغه څوک چې په مجازاتو نه پوهيږي نو هغه دې پوه شي چې دا د مجازاتو د ګټلو ځايې دې، دنيا داسې ځانګړتيا لري چې دده درناوی کوونکي شرموي، دده راټولونکي بيوزله کوي، او هره شيبه پکې مړی کيږي، نو ښه توښه له دنيا داده چې له ده څخه ډده وشي او پدې دنيا کې بډاې هغه څوک دې چې دنيا نه لري. اې د مسلمانانو اميره! دنيا لکه زهر داسې ده چې څوک يې د روغتيا په نيت خوري مګر له همدې وجې مري. اې د مسلمانانو اميره! په دنيا کې داسې اوسه لکه زخمي چې له ځينو شيانو له خوړلو ددې لپاره ډډه کوي چې ورسته بيا تل پرې پښيمانه نه شي، او د ترخو درملو په خوړلو صبر کوي چې بيا ټول عمر په عذاب نشي، ای د مسلمانانو اميره! د فضيلت خاوندان په دنيا کې په ډير تواضع او خاکساري تګ کوي، په لباس کې له اقتصاده کار اخلي، تل د حق

خبرې کوي حلاله روزي خوري، په وچه او لمده (بحر) دواړو کې له الله څخه يوشان ويرېږي، په خوشحالۍ او خفګان دواړو کې يې دعاګانې يوشان وي، که چېرې د الله تعالې له خوا يې د مرګ نيټه ټاکل شوې نه واې نو د ګناهونو له ويرې او د ثوابونو ته د ليوالتيا له امله به د ددوی ارواوې په بدن کې د لږې مودې لپاره پاتې واې، يعنې دوی به ژر ځانونه شهادت ته رسولي واې، دوی الله تعالې ډير لوی ګڼې او مخلوق يې تر سترګو وړوکې ښکاري، نو له دنيا څخه داسې ځان ژغوره او په لږ څيز اکتفا کوه.

## پوهه او عبادت يې:

حسن بصري رحمه الله به ډير روژه نيوونکې او د شپې له خوا د تهجد لمونځ کوونکۍ وو، هغه به محترمو مياشتو (اشهر الحرم) دوشنبې او پنجشنبې روژې نيولې. ابن سعد د هغه د علم په اړه وايې: حسن بصری يو ډيره ښه عالم، د مختلفو علومو راټولونکۍ، اوچت، باوري، عبادت کوونکی د فصاحت او بلاغت خاوند، ښکلۍ شخصيت وو. ده چې

له کومو خلکو روایتونه کړي او له دې چې کوم احادیث راویت شوي دي د ښه استدلال وړ دي، کله چې مکې ته راغې نو خلکو هغه پر کټ کښیناوه او خلک ترې چارپیر شول او ده ورته د حدیث بیانول پیل کړل، په راغلیو خلکو کې لوې علماء لکه مجاهد، عطاء، طاووس، عمرو بن شعیب شامل وو چې وروسته هغوې وویل: داسې شخصیت مو هیڅکله نه وو لیدلی.

انس به مالک به تل ویل: له حسن بصري نه وپوښتئ چې هغه یاد کړل او موږ هیر کړي دي.
ابو سعید الاعرابي په طبقات النساک کې وايي: عام عبادت کوونکي به حسن بصري ته راتلل نو د عبادت د معناوو په اړه به یې دهغه عالمانه خبرې په ډیر غور سره اوریدې، عمرو بن عبید او عبد الواحد بن زید به تل له هغه سره ملګري وو، او په کور کې یې یو ځانګړی مجلس درلوده چې په هغه کې به یې د زهد، عبادت، او باطني علومو څخه پرته په بل هیڅ څیز خبرې نه کولې، که چیر به کوم سړي د بل څه په اړه خبره وکړه نو دې به ورته

ځواب ورکړ: مونږ له خپلو ملګرو سره یواځې پریږدی چې یو بل ته یادونه وکړو، مګر کومه حلقه یې چې په مسجد کې درلوده نو په هغه کې به یې قرآن، حدیث، فقه، قرآنې علوم، عربي ژبه او نور علوم تدریسول، کله به هم ورځخه د تصوف په اړه پوښتنې کیدې چې ځوابونه به یې ورته ویل، ځینو به ورځخه حدیث زده کول او ځینو به ورځخه د قرآن زده کړه کوله او ځینو به ورځخه بلاغت او بیان هم زده کول او ځینو به د اخلاص او خصوصي علم د زده کړې لپاره ورسره ملتیا کوله لکه عمرو بن ابی عبید، ابی جهیر، عبد الواحد بن زید، صالح المري و شمیط و ابو عبیدة الناجي چې له دوی څخه هر یو یې په عبادت کې مشهور خلک وو.

د مزني قبیلې له بکر به عبد الله څخه روایت دې چې: که څوک غواړي چې زمونږ تر ټولو پوه سړې ته وګوري نو هغه دې حسن بصري ته وګوري.

قتادة فرمایلي دي: په حلالو او حرامو باندې تر ټولو پوه انسان حسن بصري وو.

## له الله څخه ویره:

حسن بصري به د الله تعالې څخه زیاته ویره لرله، حمید طویل روایت کوی چې: یوه سړي غوښتل چې له حسن بصري سره ښیښې وکړي، نو زه د هغوې ترمنځ استازې وم چې ویل یې: داسې راته وبریښیدل چې حسن بصري دې ښیښې ته خوښ دی، نو زه یوه ورځ راغلم او دهغه په محضر کې مې د هغه بل کس ستاینه پیل کړه او ومې ویل: اې ابو سعیده! زه یوه بله خبره هم درته وکړم چې هغه سړې پنځوس زره درهمه لري، هغه وویل: هغه پنځوس زره درهمه حلالې راټول کړي دي؟ ما وویل چې : زه خو د هغه د تقوا په اړه څه معلومات نلرم، نو هغه راته وویل: که چیرې هغه دومره پیسې حلالې هم راټولې کړې وي نو بیاهم هغه بخیلي کړې ده، نو قسم په خداې چې هیڅکله زمونږه ښیښې شونې نه ده.

د مرثد زوې علقمة د اتو تابعینو په یاد کې وایې: مګر تر حسن بصري خو زیات ویرجن مونږ ندې لیدلې، داسې چې ته به وایې چې ګواکې په لنډه موده کې ورته څه مصیبت

پیښ شوې دی.

زید بن حوشب وایي: له عمر بن عبد العزیز او حسن بصري څخه پرته مو له الله څخه زیات ویریدونکي هیڅوک ندي لیدلي ته وا چې د دوزخ اور یواځې د دوی لپاره پیدا شوی.

حفص بن عمر وایي: چې یوه ورځ حسن بصري وژړل نو ترې پوښتنه وشوه چې ولې ژاړې؟ ویې ویل: ویریږم چې سبا مې الله اورته وانچوي او هیڅ پرواه ونه کړي.

## د حق وینا یې:

په کال ۱۰۳ هجري کې چې د یزید بن عبد الملک په زمانه کې عمر بن هبیرة الفزاری د عراق او افغانستان والي و ټاکل شو نو دغه والي حسن بصري، محمد بن سیرین، او شعبي ځان ته را وغوښتل او ورته ویې ویل: چې یزید خو په ځمکه کې د الله تعالي خلیفه دې چې په خلکو یې ټاکلې او دهغه اطاعت یې په خلکو لازم کړی او له مونږ څخه یې د اطاعت کولو تعهد اخیستې. یزید بیا زه پر تاسو والي ټاک یم او کله ماته کوم فرمان راکوي او زه یې ټول فرمانونه

منم، تاسي څخه نظر لرئ؟ شعبی او ابن سیرین داسې خبره وکړه چې په هغه کې تقیه وه ( یعنې چې هغوئ ورڅخه په داسې خبرې ځان خلاص کړ چې نه هغوئ حق پټ کړې وي او په عین حال کې والي هم په قهر نه کړي) بیا ابن هبیرة حسن بصري ته مخ واړاوه چې ته پکې څه وایې؟ حسن بصري وفرمایل: ای ابن هبیره! د یزید په وړاندې له الله تعالی څه وویریږه او د الله تعالی په وړاندې له یزید څخه مه ویریږه، ځکه چې الله تعالې دې له یزید څخه خلاصوې شي مګر یزید دې له الله تعالی څخه نشي خلاصواې، او کیداې شي چې الله تعالې درته داسې فرښته را ولیږی چې له خپل تخت او تاج څخه دې کوز کړي او خپل قبر ته دې ولیږي چې بیا دې له خپل نیک عمل څخه پرته هیڅوک نه شي خلاصولې. ای ابن هبیرة! که چیرې د الله نافرماني وکړې نو الله تعالې دغه پادشاهي د خپل دین او بندګانو څخه ددفاع لپاره ګرځولې ده، نو د الله په دین او بندګانو باندې د خداې ورکړي پادشاهۍ په واسطه مه سوریږه ځکه چې کله د الله نافرماني کیږي نو هغه وخت بنده اطاعت لازم ندې، نو ابن هبیرة د حسن بصري له

خبرو ډېر اغېزمن شو او دده جایزه یې تر ابن سیرین او شعبي ځو چنده کړه. شعبي ابن سیرین ته وویل چې مونږ چنداني خبرې ونکړې نو ځکه هغه هم مونږ ته چنداني اهمیت رانکړ.

## نصیحت کول یې:

حسن بصري به تل د الله تعالې د رضا لپاره د مسلمانانو د مشرانو او عامو خلکو ته نصیحت کاوه. یوه ورځ ورته عمر بن عبد العزیز لیک واستاوه چې ماته نصیحت وکړه! ورته ویې لیکل: ځوک چې له تاسره تل ملګري دي هغوې درته نصیحت نه کوي، مګر ځوک چې درته نصیحت کوي هغه دې ملګرتیا نه کوي.

ړوند حمزة روایت کوی چې یوه ورځ مې مور حسن بصري ته بوتلم، ورته وویې ویل چې اې ابو سعیده! غواړم چې دغه زما زوې له تاسره ملتیا و کړي چې ګوندې که خداې ورته ستا له علم ځخه څه ورپه برخه کړي، هغه وایي زه به ورته د زده کړې لپاره راتلم چې یوه ورځ یې راته وویل چې اې زویه! تل د آخرت لپاره خفګان کوه، ګوندې الله دې ځان

ته ورسوي او په يواځې توپ کې الله ته ژاړه ، ګوندې چې
دربانديې ورحميږي او کامياب دې کړي. هغه زياتوي چې
زه به تل د حسن بصري کورته ننوتم چې کتل به مې چې
هغه به ژړل او له خلکو سره به مې هم ليده چې ژړل به يې
او ډېر ځله به مې په لمانځه کې هم د هغه ژړا او زګيروی
اوريده، نو يوه ورځ مې ترې وپوښتل چې ای ابو سعيده ته
دومره ډېر ولې ژاړې؟ نو سمدستې يې وژړل او بيا يې راته
وويل: نو مسلمان چې د الله له ويرې ژړا و نه کړي نو څوک
به يې کوي، ژړا خو د الله د رحمت سبب کيږي، که دې
وکولای شول چې ټول عمر وژاړې، ويې کړه، ځکه چې
کيدای شي الله دې په حال ورحميږي او بخښنه درته وکړي
په پايله کې به جنت ته ولاړشې.

## زړورتيا يې:

هشام بن حسان وايې چې حسن بصري په خپل وخت کې
تر ټولو زړور سړی وو، همدارنګه جعفر بن سليمان وايي:
حسن بصری تر ټولو زړور او قوي سړی وو، مهلب به چې
کله هم له مشرکينو سره جنګ کاوه نو حسن بصری به يې

کله هم له مشرکینو سره جنګ کاوه نو حسن بصری به یې وړاندې کاوه.

## زهد او له خلکو استغناء:

حسن بصري واقعا زاهد وو ځکه چې هغه د پادشاهانو له مال او قدرت داوړو څخه استغناء کړیوه نو پایله یې داوه چې هغوې له ده سره مینه کوله، او د عامو خلکو او د هغوی له مال څخه یې استغناء کړیوه نو هغوی هم حسن بصری سره بې کچه مینه درلوده. یونس بن عبید وایې: حسن بصري چې کله خپل معاش واخیست نو د هغه ویشل یې پیل کړل، د هغه کورنۍ ورته د کومې اړتیا خبره وکړه نو ورته ویې ویل: څه چې له ویشلو پاتې شوي دي دغه واخلۍ او که ستاسې اړتیا نه وای نو پکاروه چې دا هم ویشل شوي وای.

د صفوان زوې خالد روایت کوي: زه د مسلمة بن عبد الملک سره مخ شوم چې ویل ویې: اې خالده! د بصرې له حسن نه څه احوال راکړه. خداې دې تاسې ته هدایت کړي

زه به تاسي ته د خپلې پوهې پر بنسټ خبر درکړم، زه د هغه د ځنګ ګاوندی یم او دهغه په مجلس کې ډېر ناست یم، هغه داسې څوک وو چې د هغه پټه او ښکاره یو شان وه او دهغه وینا له عمل سره یو شان وو، که چیرې به یې په کوم کار امر کاوه نو پخپله به یې تر ټولو لومړی هغه کار سرته رساوه، او که به یې څوک له کوم کار څخه منع کول نو تر ټولو به یې پخپله له هغه کار څخه ډډه کوله، ما هغه له خلکو نه مستغنی ولیده او خلک مې هغه ته اړ ولیدل، نو مسلمة راته وویل: همدومره بس دی: څنګه به هغه قوم بې لارې کیږي چې په هغوې کې د حسن بصري په شان څوک موجود وي.

## د ملګرو حقوق پیژندل:

حسن بصري به ددوستانو حقوق ډېر ښه پیژندل او هغه یې مراعتول، معمر له قتادة څخه روایت کوي: مونږ یوه ورځ د حسن بصری کورته ولاړو نو و مو لیدل چې هغه ویده دې او د هغه سرته یوه شکری ایښی ده چې په هغه کې ډودۍ او میوه ده نو مونږ سمدستي د هغه په خوړلو پیل وکړ، په دغه

وخت کې هغه راویښ شو چې مونږ یې ولیدلو، ویې خندل او دغه آیت یې لوسته چې {أَوْ صَدِيقِكُمْ لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ} معنې یې داده چې د ملګري له کوره د هغه له اجازې پرته هم خوراک کول پروا نه لري.

## د حسن بصري له ویناوو څخه:

- دینار او درهم ناوړه دوستان دي، تر څو چې له تا لرې شوي نه وي نو هیڅ ګټه درته نه رسوي.
- دنیا سپکه و ګڼئ، قسم په خداې چې تر هغو به درانده نشئ چې دنیا مو سپکه نه وي ګڼلې.
- د هرڅه په خاطر چې دې خوښه وي له خلکو سره ملګرتیا وکړه، هغوی به هم دهغه په خاطر درسره ملتیا کوي چې ته یې د هغه لپاره ورسره کوې.
- مرګ دنیا وشرموله، او عاقل سړي ته پکار نده چې پرې خوښ شي.
- د مسلمان خندا د هغه د زړه د غفلت ښکارندویې کوي.

د وفات په وخت دریغ یې:

ابو طارق السعدي وایي: د حسن بصري د وفات کیدو په

وخت زه هلته وم چې هغه يوه ليكونكې راوغوښت او ورته ويې ويل چې وليكه: حسن د ابو الحسن زوی شاهدي وركوي چې الله تعالی يو دی او هيڅ شريک نلري او داچې محمد د الله تعالی رسول دی، هرچا چې په ريښتينولۍ سره د مرګ پر وخت دغه شاهدي وويله نو هغه به ارو مرو جنت ته داخليږي، كله چې ځنكدن شو نو سمدستي يې (انا لله و انا اليه راجعون) تكرارول پيل كړل، سمدلاسه يې زوی پاڅيد او ورته ويې ويل: پلاره څه مصيبت درته پيښ شو چې مونږ دې حيرانه كړو؟ هغه وويل: دا مصيبت زما خپل نفس دی، ده غوندې مصيبت مې هيڅكله نه وو ليدلی.

## وفات يې:

حسن بصري د هجرت په يوسل او لسم كال د جمعې په شپه وفات شو چې عمر يې كابو ۸۹ كاله وو او ځينې روايات وايې چې ۸۶ كاله وو، حميد او ايوب ورته غسل وركړ، كله چې د جمعې لمونځ ادا شو او خلک خواره واره شول نو دده جنازه وويستل شوه، ډير خلک يې پر جنازه راټول شول او ګڼه ګوڼه دومره زياته شوه آن تردې چې دده

راټول شول او ګڼه ګوڼه دومره زیاته شوه آن تردې چې دده پر جنازې د مشغولتیا له لامله د بصرې په جامع جومات کې د مازیګر لمونځ ونه شو او د ټولو خلکو څخه د مازیګر لمونځ قضاء شو.

---

**ماخذونه:**

سیر أعلام النبلاء – البداية والنهاية – الطبقات الكبرى – تهذيب الكمال – تهذيب التهذيب – وفيات الأعيان – عجائب الآثار – إحياء علوم الدين – ذم الدنيا – صفة الصفوة – مكارم الأخلاق – الوافي بالوفيات.